مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څیړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۵۱** (از ۱۵ الی ۲۲ ثور ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

**بربنسټيز پېژندپاڼي او د شته اختلافاتو راتلونکی**

د بربنسټيز پېژندپاڼو اړتيا او اهميت ........ ۴

د بربنسټيز پېژندپاڼو د وېش ځنډنی بهیر ........ ۴

ولې بربنسټيز پېژندپاڼي د اختلافاتو ښکار دي؟ ........ ۵

د اختلافاتو راتلونکی ........ ۷

**فقر و بی‌کاری؛ پیامد بی‌ثباتی سیاسی و امنیتی در افغانستان**

سیر صعودی میزان فقر و بی‌کاری ........ ۹

چرا فقر و بی‌کاری دامن‌گیر افغان‌هاست؟ ........ ۱۰

چگونگی مبارزه با فقر و بی‌کاری ........ ۱۱

## مقدمه

له څو کلن ځنډ وروسته د افغانستان د تابعیت د تذکرې په توګه د الکترونیکي تذکرو د وېش لړۍ پیل شوه. د ولسمشر لهخوا دا ګام داسې مهال واخیستل شو، چې په اوسني ډول د توزیع پر وړاندې یې مخالفتونه شته دي. جمعیت اسلامي په دې تړاو مخالفت دریغ اعلان کړ او په ولسي جرګه کې یې هم مخالف او موافق دریځونه بیان شول.

که څه هم د تذکرو د وېش اداري مسؤولین وايي، چې د سیاسي اختلافاتو له کبله به دا بهیر ونه ځنډېږي او څو میاشتې وروسته به په ولایاتو کې هم پیل شي؛ خو د نورو ستونزو ترڅنګ په دې تړاو شته سیاسي اختلافاتو له کبله د دغه بهیر په اړه اندېښنې شته دي. دا چې بالاخره به د دغو اختلافاتو برخلیک څه وي او ایا دا اختلافات به دا بهیر له ګواښ سره مخ کړي کنه؟ هغه پوښتنې دي، چې د نورو پوښتنو ترڅنګ یې د ستراتېژیکو او سیمهییزو څېړنو مرکز د اوونیز تحلیل په لومړۍ برخه کې په اړه شننه لولئ.

د تحلیل دویمه برخه مو بیا په هېواد کې د بېوزلۍ او بېکارۍ د لوړې کچې موضوع ته ځانګړې کړې ده. تېره اوونۍ د افغانستان د احصائیې مرکزي اداري یوه سروې خپره کړه، چې له مخې یې تر نیمایي زیات افغانان د بېوزلۍ تر کچې لاندې ژوند تېروي. بېوزلي او بېکاري هغه دوې ننګونې دي، چې عام افغانان د نورو ستونزو او ننګونو ترڅنګ ورسره مخ دي او له همدې کبله زیات شمېر افغانان په وروستیو کلونو کې د اروپا په لور روان شول. دا چې ولې د بېوزلۍ او بېکارۍ کچه ورځ تر بلې لوړېږي او حللارې یې څه دي؟ هغه پوښتنې دي، چې دلته یې د ځوابولو هڅه شوې ده.

# برېښنايي پېژندپاڼې او د شته اختلافاتو راتلونکی



**حکمت الله ځلاند /** د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

په افغانستان کې د ټاکنو د روڼتيا او درغليو د مخنيوي لپاره د برېښنايي پېژندپاڼو د وېش اړتيا يو هغه لامل و، چې له کبله يې د افغانستان پارلماني ټاکنې درې کاله وځنډېدې؛ خو له دغه ځنډ سره سره بيا هم د دغو پېژندپاڼو له وېش پرته د ټاکنو پروسه پيل شوه او اوس عملا د کاغذي پېژندپاڼو په وېش کې په پراخه کچه درغلی رواني دي.

د ټاکنو د قضيې ترڅنگ، گڼ شمېر نورو اړتياوو ته په کتلو سره، له وړاندې بايد دغه پېژندپاڼې وېشل شوې واى؛ خو دا پروسه په تېرو کلونو کې له خنډونو سره مخ شوه او لا هم ننگوونکي خنډونه په مخ کې لري.

ولسمشر اشرف غني د غوايي په ۱۳مه د لومړنۍ پېژندپاڼې په اخيستلو سره رسما دغه بهير پيل کړ؛ خو ساعت وروسته اجرائيه رئيس ډاکتر عبدالله عبدالله په يوه کنفرانس کې راڅرگند شو او د ولسمشر له دغه کار سره يې مخالفت وکړ.

دا چې د برېښنايي پېژندپاڼو (الکترونيکي تذکرو) اړتيا او اهميت څه دی، ولې دا پروسه د اختلافاتو ښکار شوه او دا ستونزه او د برېښنايي پېژندپاڼو د بهير برخليک په کوم لوري روان دی؟ هغه پوښتنې دي، چې دلته يې د ځوابولو هڅه شوې ده.

## د برېښنايي پېژندپاڼو اړتيا او اهميت

په افغانستان کې د برېښنايي پېژندپاڼو د وېش لړۍ د سيمې د ګڼو هېوادونو په کچه نوښت بلل کېږي او بېلابېلو لاملونو ته په کتلو سره د ډېر اهميت وړ ده، چې ځينې اړتياوې او اهميتونه يې په لاندې ډول دي:

- په ټاکنو کې د درغليو مخنيوی؛
- د ټاکنو لپاره د کارتونو د توزيع يا نوم‌ليکنې د لګښتونو سپما؛
- د هېواد د وګړو د دقيق شمېر معلومېدل؛
- نړيوال ستندرډ او له هېواده بهر د معياري پېژندپاڼې په توګه د کارولو ګټې؛
- په پاسپورت، د موټر چلولو جواز، د موټر ګرځولو جواز، نکاح‌خط او نورو خدماتو کې آسانتيا؛
- د بهرنيو وګړو له‌خوا د افغانستان د تابعيت د تذکرو اخيستلو مخنيوی؛
- د يوه کس له‌خوا د څو تذکرو اخيستلو او ورته نورو درغليو او اداري فساد مخنيوی؛
- د جنايي جرمونو کنټرول او د مجرمينو په پېژندلو کې آسانتياوې؛
- او نور.

دا هغه موارد دي، چې د برېښنايي حکومتولۍ د بنسټ په توګه د يوه دولت له‌خوا د خدماتو وړاندې کولو، مالياتو ورکولو او راټولولو، اقتصادي ودې او پرمختيا، پاليسيو جوړولو او نورو برخو کې خورا مهم او د وخت اړتيا بلل کېږي.

## د برېښنايي پېژندپاڼو د وېش ځنډنی بهير

د برېښنايي پېژندپاڼو د پروژې عملي چارې لومړی ځل د ۲۰۱۰ کال په ډسمبر کې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت او د GTR په نوم يوه خصوصي شرکت ترمنځ د يوه تړون په لاسليک کولو سره پيل شوې او ټاکل شوې وه، چې د وېش لړۍ يې په اتو مياشتو کې پيل شي؛ خو د ناڅرګندو لاملونو له مخې دا لړۍ پيل نه شوه.[1]

[1] See online: http://mcit.gov.af/fa/news/273

وروسته بیا د ۲۰۱۲ کال په مارچ میاشت کې د دغې پروژې د عملي چارو د پیل په موخه د مخابراتو او کورنیو چارو وزارتونو ترمنځ یو تړون لاسلیک شو، چې له مخې یې باید په شپږو میاشتو کې د برېښنایي پېژندپاڼو د وېش لړۍ پیل شوې وای؛ خو بیا هم د نامعلومو لاملونو له کبله دا لړۍ پیل نه شوه.

ظاهرا د دغې پروژې د عملي کېدو په لاره کې یو خنډ هم د نفوسو د احوالو د ثبت قانون په اړه شته اختلافات وو، چې که څه هم د ولسي جرګې لهخوا په ۲۰۱۳ کال کې تصویب شو؛ خو مخکېني ولسمشر حامد کرزي توشېح نه کړ او دا کار یې راتلونکي ولسمشر ته پرېښود.

د ملي یووالي حکومت له جوړېدو سره ولسمشر اشرف غني د ۲۰۱۴ په ډسمبر کې د نفوسو د احوالو د ثبت قانون توشېح کړ، چې د شپږمې مادې له مخې یې په تذکرو کې قوم او ملیت دواړه نه لیکل کېدل؛ مګر دا ماده له مخالفتونو سره مخ شوه او له کبله یې دا بهیر لا ډېر جنجالي شو.

په پای کې ولسمشر د ۲۰۱۷ کال د مارچ په ۲مه له مشورو وروسته د یوه تقنیني فرمان له لارې د دغه قانون تعدیل شوې بڼه توشېح کړه، چې له مخې یې په پېژندپاڼو کې د قوم، ملیت او دین ځانګړنې لیکل کېږي. ولسي جرګې دغه تقنیني فرمان ته د رد او مشرانو جرګې د تایید رایه ورکړه او له همدې کبله د دواړو جرګو ګډ کمیسیون جوړ شو او بالاخره یې دا فرمان تایید کړ؛ خو بیا هم دا ستونزه په بشپړ ډول هواره نه شوه.

## ولې برېښنايي پېژندپاڼې د اختلافاتو ښکار دي؟

په برېښنایي پېژندپاڼو کې د ملیت او قوم د ذکر کولو یا نه ذکر کولو موضوع هغه قضیه ده، چې ظاهرا یې له تېرو څو کلونو راهیسې د برېښنایي پېژندپاڼو وېش له ځنډ او خنډ سره مخ کړی دی. د ملیت د لیکلو مخالفین وایي، چې «افغان» اصلا د پښتون په معنا دی او په تذکرو کې ټولو خلکو ته د ملت په توګه د افغان کلمه لیکل د هویت جعل دی. د جمعیت اسلامي د رسمي دریځ له مخې هم د قومي هویت لیکلو اړتیا نشته او یوازې «د افغانستان اسلامي جمهوریت» تر نامه لاندې د پېژندپاڼو توزیع کفایت کوي.[2]

په بل اړخ کې، د افغانستان د اساسي قانون د څلورمې مادې څلورمه فقره صراحت لري، چې «د افغان کلمه د افغانستان د ملت په هر فرد اطلاق کېږي». ځکه نو په تذکرو کې د «افغان» کلمې د ذکر کولو پلویان وایي، چې دا بهیر کومه حقوقي او قانوني ستونزه نه لري او په دې تړاو کومې مشورې ته هم اړتیا نه لیدل کېږي.

---

[2] See online: http://www.bbc.com/persian/afghanistan-44003572

له همدې کبله ولسمشر غني هم د دغه بهیر له پرانیستې وروسته په یوه غونډه کې وویل: «زموږ بحث پر دې نه دی چې څه ډول اساسي قانون ولرو، بلکې زموږ بحث پر دې دی چې اساسي قانون پلی کړو».[3]

بل لامل، چې له مخې یې په پېژندپاڼو کې د ملیت ذکر کولو پلویان پر خپل دریځ ټینګار کوي، دا دی چې له تاریخي او رسمي پلوه له پخوا راهیسې د افغانستان اوسېدونکي د افغان په نوم نومول شوي او په نړیواله کچه هم څوک چې د افغانستان په جغرافیه کې اوسېږي، افغان پېژندل کېږي؛ ځکه نو د افغانانو لپاره افغنستاني یا خراساني یا کوم بل هویت دود کول ناشونی کار دی. همدا راز، په بېلابېلو هېوادونو کې بېلابېل قومونه په یوه هویت پېژندل کېږي؛ لکه په ازبکستان کې بېلابېل قومونه د ازبک، په تاجکستان کې بېلابېل قومونه د تاجک، په ترکمنستان کې بېلابېل قومونه د ترکمن او داسې نور.

د حکومت اجرائیه مشر ډاکتر عبدالله عبدالله که څه هم د دغه اقدام پر وړاندې د خپل مخالفت څرګندولو په کنفرانس کې وویل، چې د «افغان» او «مسلمان» په توګه پر خپل هویت ویاړي؛ خو دا چې پر دې موضوع ملي اجماع نشته او له ده سره پرې توافق نه دی شوی، دا بهیر یې نامشروع وباله او ګوتڅنډنه یې وکړه، چې دوام به یې هېواد د بحران په لوري بوځي.

په دې منځ کې یو شمېر سیاسیون غواړي، له قومي او ژبني تعصب او په ځانګړې توګه همدې قضیې څخه په ګټې اخیستنې سره ځان ته کمپاین وکړي او خپل پلویان زیات کړي. له همدې کبله په دواړو اړخونو کې یو شمېر سیاسیون پارونکې ویناوې کوي.

له دې سره سره، په اوسني وخت کې د دغې پروسې د دوام له کبله په ټوله کې د کومې جدي ګډوډۍ او کشمکش وېره نه لیدل کېږي؛ ځکه د دغه بهیر په پرانیست‌غونډه کې د ولسمشر ترڅنګ ګڼ شمېر جګپوړو چارواکو او قومي-سیاسي مشرانو هم ګډون کړی و، چې له دې جملې د ولسي جرګې او مشرانو جرګې د مشرانو، د ولسمشر د لومړي مرستیال زوی باتور دوستم، د کار او ټولنیزو چارو وزیر فیض الله ذکي، د ولسمشر دویم مرستیال سرور دانش او د سولې د عالي شورا مشر کریم خلیلي، د اجرائیه رئیس لومړي مرستیال انجنیر محمد خان او ځینو نورو چارواکو شتون پکې مهم و.

په ټولنیزو رسنیو کې هم ښکاري، چې د دغې قضیې په تړاو د عامو افغانانو نظر تر ډېره بدل شوی او ډېری خلک نور نه غواړي چې دغې قضیې ته لا زیاته لمن ووهل شي او دا اختلافات نور هم ژور شي.

[3] See online: http://www.bbc.com/pashto/afghanistan-44030913

## د اختلافاتو راتلونکی

سره له دې چې په راروانو پارلماني ټاکنو کې به بریښنایي پېژندپاڼې ونه کارول شي؛ خو بیا هم له څو کلن څنډ او ډېرو ستونزو سره سره د بریښنایي پېژندپاڼو د وېش د بهیر پیل، د دغو پېژندپاڼو اهمیت ته په کتلو سره، مهمه لاسته راوړنه بلل کېږي.

د اوس لپاره به د کاغذي او بریښنایي پېژندپاڼو د وېش بهیر په موازي ډول پر مخ ولاړ شي او له راروانو ټاکنو وروسته به ښايي د کاغذي پېژندپاڼو د لغوه کېدو مهالوېش اعلان شي. داسې ښکاري چې په دې توګه به دا ستونزه هم هواره شي او په وروستیو میاشتو کې به د مخالف دریځ عام وګړي هم دا پېژندپاڼې واخلي.

لکه څرنګه چې د نفوسو د ثبت او احوال اداره هم وايي، داسې بریښي چې دا بهیر به د سیاسي اختلافاتو له کبله ونه دربېږي او شپږ میاشتې وروسته به د هېواد د لویو ښارونو په مرکزونو کې هم د بریښنايي تذکرو د وېش مرکزونه پرانېستل شي؛ خو په هر صورت به له ځینو ننګونو سره هم مل وي.

په دې تړاو شته اختلافات په اوسني وخت کې تر ډېره قاطع دریځونو ته اړتیا لري؛ ځکه په دې منځ کې د ځینو کړیو فعالیت، د تفاهم له لارې د دغې قضیې هواری ناشونی کړی. د بېلګې په توګه، په بریښنايي پېژندپاڼو کې د ملیت او قومیت د لیکلو له قضیې په استفادې سره ځینې کسان د «افغانستان» نوم په «خراسان» بدلولو خبره کوي، کوم څه چې د دغو اختلافاتو او جنجالونو د لا ژورېدو تصویر له ځان سره لري او که دا قضیه نورو بحثونو ته ولاړه شي، حل به یې ناشونی شي.

# فقر و بی‌کاری؛ پیامد بی‌ثباتی سیاسی و امنیتی در افغانستان



**ضیاءالاسلام شیرانی** / مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

پس از حملۀ امریکا بر خاک افغانستان، با ایجاد نظام جدید و حضور نیروهای خارجی در کشور، هزاران مؤسسه، شرکت و دیگر ارگان‌های خصوصی داخلی و خارجی در این کشور آغاز به فعالیت کرد و زمینۀ کار به بسیاری از افغان‌ها مساعد شد؛ اما با خروج بخش بزرگ نیروهای خارجی در سال ۲۰۱۴م همزمان با افزایش بی‌ثباتی سیاسی و امنیتی در کشور، میزان فقر و بی‌کاری نیز رو به افزایش نهاد.

ادارۀ مرکزی احصائیه افغانستان به کمک تخنیکی انستیتوت ICON سروی وضعیت زنده‌گی مردم افغانستان در سال ۱۳۹۵هـ ش را انجام داده است. در این سروی که نتایج آن هفته گذشته (۱٦ ثور ۱۳۹۷هـ ش) با رسانه‌ها در میان گذاشته شد، گفته شده که ۵۴٫۵ درصد مردم افغانستان زیر خط فقر زنده‌گی می‌کنند و این رقم نظر به سال ۱۳۹۱هـ ش افزایش ۱٦٫۲ درصدی را نشان می‌دهد. بربنیاد این سروی، در سال ۱۳۹۵هـ ش میزان بی‌کاری در افغانستان نیز از ۲۲ درصد به ۲۴ درصد افزایش یافته است.

گرچند وزارت کار و امور اجتماعی افغانستان وعدهٔ ایجاد بیش از دو ملیون شغل در سه سال آینده را به مردم افغانستان سپرده است، ولی افغان‌ها با در نظرداشت وضعیت روبه خرابی کشور، بیشتر بر عملی شدن این وعده‌ها اعتمادی ندارند.

میزان روبه افزایش فقر و بی‌کاری در افغانستان، عوامل آن و راه‌کارهای مبارزه برای کاهش فقر و بی‌کاری در کشور، موضوعاتی اند که در این تحلیل مورد بررسی قرار گرفته است.

## سیر صعودی میزان فقر و بی‌کاری

با تجاوز اتحاد شوروی بر خاک افغانستان و ادامهٔ چندین دهه جنگ در کشور، ملیون‌ها افغان مجبور به ترک کشور خود شدند و به همین دلیل سرمایه‌های خویش را نیز از دست دادند و میزان فقر و بی‌کاری در بین افغان‌ها به خصوص در جریان جنگ‌های داخلی در کشور به شدت افزایش یافت.

در سال ۲۰۰۱م با ورود نیروهای بین‌المللی به افغانستان، میلیاردها دالر نیز به افغانستان سرازیر شد و در برخی سکتورها پیشرفت‌هایی نیز دیده شد، اما نظر به ارقام بانک جهانی، میزان فقر و بی‌کاری در افغانستان نظر به میزان فقر و بی‌کاری در جهان نه تنها کاهش نیافته، بلکه رو به افزایش نیز بوده است.

در سال‌های ۲۰۰۷ و ۲۰۰۸م ۳۶٫۳ درصد نفوس افغانستان زیر خط فقر زنده‌گی می‌کردند، ولی در سال‌های ۲۰۱۱ و ۲۰۱۲م نظر به گزارش بانک جهانی، این فیصدی به ۳۵٫۸ درصد کاهش یافت که کاهش چشم‌گیری شمرده نمی‌شود. در گزارش دیگری بانک جهانی و دولت افغانستان که از سال‌های ۲۰۱۳ و ۲۰۱۴ م تهیه گردیده، این وضعیت دوباره رو به خرابی نهاده و فیصدی فقر در این سال‌ها از ۳۵٫۸ درصد دوباره به ۳۹٫۱ درصد افزایش یافته است.[4]

پس از سال ۲۰۱۴م و روی‌کار آمدن حکومت وحدت ملی با درنظرداشت یافته‌های سروی اخیر ادارهٔ مرکزی احصائیه افغانستان، بحران اجتماعی در افغانستان رو به گسترش بوده، چون یافته‌های این سروی نشان می‌دهد که وضعیت زنده‌گی مردم بیش از پیش خراب شده و بیشتر از نیم نفوس افغانستان زیر خط فقر زنده‌گی می‌کنند.

---

[4] The world bank, http://www.worldbank.org/en/news/press-release/2017/05/08/poverty-afghanistan-rose-amidst-troop-withdrawal-poverty-update-2017

از سوی دیگر تلاش‌های اشتغال‌زایی در کشور نیز که رابطهٔ مستقیم با فقر دارد ناکام و یا در پایین‌ترین سطح آن قرار داشته است. بربنیاد آمار بانک جهانی، از مجموع قوهٔ کاری در افغانستان ۴٫٦ درصد آنان در سال ۲۰۰۱ م بی‌کار بودند. در سال‌های ۲۰۰۲ و ۲۰۰۳ م این رقم به ۴٫٦ و ۴٫۹ درصد رسید. در سال ۲۰۰۴م درصدی بی‌کاری در کشور به ۴٫۵ نزول کرد، ولی در سال ۲۰۰۵ بار دیگر به ۸٫۵ درصد افزایش یافت و از آن ببعد نرخ بی‌کاری در افغانستان روبه افزایش بوده است.[5]

نظر به آمار بانک جهانی، نرخ بی‌کاری در این کشور با داشتن حدود ۲ میلیون فرد بی‌کار از مجموع قوهٔ کاری سال ۲۰۱۴ میلادی، ۲۳ درصد بود[6] که بربنیاد آمار اتحادیهٔ ملی کارگران افغانستان این رقم در حال حاضر به ۴۰ درصد افزایش یافته است.[7] اما یافته‌های سروی ادارهٔ مرکزی احصائیه در رابطه به سال ۱۳۹۵هـ ش، نشان می‌دهد که ۲۴ درصد از نیروی کار افغانستان در بی‌کاری به سر می‌ردد. بربنیاد گزارش این نهاد، توقع می‌رود که ۳٫۹ میلیون نفر از نفوس جوان افغانستان طی پنج سال آینده به سن کار خواهند رسید که از میان آن‌ها ۱٫٦ میلیون وارد بازار کار شده و نظر به میزان فعلی مشارکت نیروی کار و بی‌کاری، حدود ۵۴۰ هزار تن بی‌کار خواهند ماند.

## چرا فقر و بی‌کاری دامن‌گیر افغان‌هاست؟

**وضعیت وخیم امنیتی:** ناامنی‌ها و ادامهٔ جنگ در افغانستان یکی از عوامل مهمی به شمار می‌رود که این کشور را با بحران فقر و بی‌کاری مواجه کرده است. وضعیت وخیم امنیتی علاوه بر این که باعث فرار سرمایه و سرمایه‌گذاران از افغانستان شده، راه مصرف بودجهٔ دست داشتهٔ وزارت‌خانه‌های دولت افغانستان را نیز مسدود ساخته است. به این ترتیب، عدم سرمایه‌گذاری در بخش‌های زیربنایی که قدرت جذب نیروی کار را دارند، افغانستان را با بحران بی‌کاری و فقر مواجه کرده است.

---

[5] «افغانستان په تېره یوونیمه لسیزه کې»، گزارش تحقیقی و تحلیلی مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی در مورد وضعیت یک‌ونیم دههٔ گذشته، صفحه: 229، سال چاپ: 1395 هـ ش.

[6] برای معلومات بیشتر در مورد بی‌کاری در افغانستان به وب‌سایت بانک جهانی در لینک ذیل مراجعه نمایید:
http://www.worldbank.org/en/country/afghanistan/overview

[7] برای معلومات بیشتر: https://www.darivoa.com/a/thirty-nine-percent-of-afghans-are-jobless/4371996.html

**بی‌ثباتی سیاسی:** بی‌ثباتی سیاسی و ادامهٔ اختلافات داخلی میان سران حکومت در افغانستان باعث عدم توجه به روی‌دست گرفتن برنامه‌ها و اتخاذ تدابیر عملی و اقدامات پیش‌گیرانه برای مبارزه با پدیده‌های فقر و بی‌کاری شده است. پس از سال ۲۰۱۴م سران حکومت وحدت ملی بدون در نظر داشت بحران اجتماعی و وضعیت زنده‌گی مردم افغانستان، مصروف چانه‌زنی‌های تقسیم ادارات دولتی و قدرت سیاسی بودند که در زمینهٔ وضعیت زنده‌گی مردم تاثیراتی منفی برجا گذاشت.

**موجودیت فساد اداری:** بی‌ثباتی سیاسی و اختلافات داخلی سران حکومت افغانستان باعث زمینه‌سازی برای گسترش بیشتر فساد اداری در ادارات دولتی نیز شده است. فساد اداری باعث شده تا صدها هزار جوان تحصیل کرده در بی‌کاری به سر ببرند و در ادارات حکومتی ده‌ها هزار بست کاری خالی باشد و یا هم کارکنان خیالی وجود داشته باشند.

**کاهش کمک های جامعه جهانی:** یکی از عوامل مهم دیگر در رابطه به افزایش فقر و بی‌کاری در افغانستان، کاهش کمک های جامعهٔ جهانی است. در طول یک‌ونیم دههٔ گذشته ملیاردها دالر کمک از سوی جامعهٔ جهانی با افغانستان صورت گرفت و این کمک‌ها در مورد اشتغال‌زایی و مبارزه با فقر و بی‌کاری تا اندازه‌ی مفید نیز ثابت شد؛ اما به دلیل این‌که از آن برای مهیا کردن اشغال‌های درازمدت استفاده صورت نگرفت، با کاهش آن بی‌کاری و فقر نیز دوباره افزایش یافت.

یافته‌های سروی ادارهٔ مرکزی احصائیه نیز نشان می‌دهد که ناامنی‌ها، کاهش حضور جامعهٔ بین‌المللی در افغانستان، هجوم بازگشت‌کننده‌گان و کاهش کمک‌های بین‌المللی با افغانستان، از جمله عوامل افزایش میزان فقر و بی‌کاری در افغانستان به شمار می‌روند.[8]

## چگونگی مبارزه با فقر و بی‌کاری

بی‌کاری و فقر رابطهٔ مستقیم با اتخاذ تدابیر عملی، پالیسی‌های جامع و مطلوب و برنامه‌های دارد که باعث ایجاد اشتغال‌های درازمدت می‌گردد. افغانستان با توجه به داشتن منابع فراوان طبیعی و موقعیت استراتیژیک، کشوری دارای ظرفیت‌ها و فرصت‌های بالقوه زیادی است که می‌تواند دورنمای خوبی برای امید و رفاه افغان‌ها باشد.

[8] ادارهٔ مرکزی احصائیهٔ افغانستان: "سروی وضعیت زنده‌گی در افغانستان ۱۳۹۵"، آنلاین:
http://cso.gov.af/Content/files/Surveys/ALCS/Final%20Dari%20%20ALCS%20Highlights.pdf

تقویت رشد اقتصادی یکی از عوامل اساسی برای مبارزه با فقر و بی‌کاری پنداشته می‌شود که با توسعهٔ صنعت رابطهٔ مستقیم دارد. برای نیل به این هدف نیاز به مهیا شدن شرایط و محیط مناسبی برای سرمایه‌گذاری‌های سکتور خصوصی و فراهم شدن تسهیلات برای کاریابی و اشتغال‌زایی است که حکومت افغانستان تا اکنون توفیق بیشتر در این عرصه نداشته است.

از سوی دیگر، افغانستان یک کشور زراعتی است و زراعت این کشور در اقتصاد آن نقش حیاتی دارد. در یافته‌های سروی اخیر ادارهٔ مرکزی احصائیه افغانستان، ۴۴ درصد از قوهٔ کار افغانستان در عرصهٔ زراعت مشغول است و درآمد خود را از همین سکتور به دست می‌آورد. اگر حکومت برای محصولات زراعتی کشور در زمینهٔ ترانزیت، یافتن بازارهای مناسب، بلند بردن کیفیت، پروسس و بسته‌بندی، توزیع کود کیمیاوی و تخم اصلاح شدهٔ زراعتی به دهاقین توجه کند و گام‌های در حمایت از تولیدات داخلی بردارد، سکتور زراعت می‌تواند در رشد اقتصادی و مبارزه با بی‌کاری و فقر نقش مهمی را بازی کند.

در کل اگر یک کشور دارای رشد اقتصادی بیشتر باشد، علاوه بر اینکه باعث ایجاد شغل، دریافت درآمد و بهبود رفاه اجتماعی آن کشور شده می‌تواند، بلکه به نحوی روی سایر مسایل چون امنیت و صلح، حکومتداری خوب، مبارزه با فساد اداری و ثبات سیاسی نیز تاثیرگذار می‌باشد.

در جانب دیگر، معضل بی‌کاری و فقر در کشور نیز مانند هر برنامهٔ دیگر نیاز به تامین صلح در کشور دارد و تا زمانی که صلح و امنیت تامین نگردد، تلاش‌ها در زمینهٔ اقتصادی نیز نتیجهٔ آنچنانی را در پی نخواهد داشت.

پایان

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارهٔ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق ارشد:** حکمت الله ځلاند (+93) 775454048 hekmat.zaland@gmail.com

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com